# د کندې والؤ واقعه

**11-January-2024**

هفته وراه د سُنّتو ډکه اجتماع کښې کېدونکے

د سُنّتو ډک بيان

(for Islamic Brothers)

په یولسمه جنورۍ کال 2024ء د پاکستان په هفته وارو اجتماعاتو کښې کیدونکے بیان

# د کندې والؤ واقعه

په دې بیان کښې به تاسو زده کړئ...

- ... خلق مسلماني آسانه ګڼي
- ...ازمیښت په ښو خلقو باندې راځي
- ... فرښتې اوبه واړولې
- ... د بد او ښه بنده پیژندګلو
- ... مهې ګوته اوچیچله

پیشکش

اَلْمَدِیْنَۃُ الْعِلْمِیَۃ

Islamic Research Center

(شعبه : بیاناتِ دعوتِ اسلامي)

***For Feedback***:+92 315 2692786

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ؕ

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا رَسُوْلَ اللّٰہ وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا حَبِیْبَ اللّٰہ

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا نَبِیَّ اللّٰہ وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا نُوْرَ اللّٰہ

نَوَیْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِکَافِ (**ترجمه:** ما د سُنَّت اعتکاف نِیَّت اوکړو)

## د دُرُودِ پاک فضيلت

**د آخري نبي، رسولِ هاشمي** صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **فرمان مبارک دے:** د قيامت په ورځ به د **الله** پاک د عرش د سوري نه علاوه بَل سورے نه وي، درېِ کسان به د **الله** پاک د عرش د سوري لاندې وي: **(1):**هغه کس کوم چې زما د اُمتي پريشاني لرې کړي **(2):**زما سُنّت ژوندي کولو والا **(3):**په ما باندې کثرت سره دورد شريف لوستلو والا.[1]

بیٹھتے اٹھتے جاگتے سوتے | ہو اِلٰہی مرا شِعار درود [2]

**وضاحت:** يا **الله** پاکه! داسې توفيق رانصيب کړې چې په ناسته، په ولاړه، په ويښه او په اودو، بس چې هر وخت د درودِ پاک لوستلو عادت رانصيب شي.

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

**صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

## د بيان اوريدلو نيتونه

په **حديثِ پاک** کښې دي: اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّیَّات د اعمالو دار و مدار په نيتونو دے.[1]

---

[1]...البدور السافرة، باب الاعمال الموجبة لظل العرش، صفحہ: 95۔

[2]...ذوقِ نعت، صفحہ: 124۔

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! ښه نيت بنده جنت ته بوځي، د بيان اوريدو نه مخکښې څه ښه ښه نِيَّتونه اوکړئ: مَثَلاً ❁ د اللّٰه پاک د رضا د پاره به ټول بيان اورم ❁ عِلمِ دِين به زده کووم ❁ په اَدب به کښينم ❁ نصيحت به حاصلووم ❁ د اَحمَدِ مجتبیٰ، مُحَمَّد مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په پاک نوم اوريدو به درودِ پاک لولم.

## صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د سورۀ بُرُوج مختصر تعارف

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! سُورۀ بُرُوج د قرآنِ کريم يو مختصر سُورت دے، کوم چې په ديرشمه سيپاره کښې دے. په دې کښې صرف يوه رکوع او 22 آيتونه دي. د ستورو منزلونو ته بُرُوج وئيلے شي، په دې سورت مبارک کښې په شروع کښې د بُرجونو والا آسمان ذِکر دے، په دې مناسبت سره دې سورت ته سورۀ بُرُوج وئيلے شي. د دې سورت مبارک په شروع کښې يو د سبق نه ډکه، عبرتناکه او ايمان تازه کوونکې واقعه بيان شوې ده. اللّٰه پاک ارشاد فرمائي:

قُتِلَ اَصْحٰبُ الْاُخْدُوْدِ ۙ﴿۴﴾ النَّارِ ذَاتِ الْوَقُوْدِ ۙ﴿۵﴾ اِذْ هُمْ عَلَيْهَا قُعُوْدٌ ۙ﴿۶﴾ وَّ هُمْ عَلٰى مَا يَفْعَلُوْنَ بِالْمُؤْمِنِيْنَ شُهُوْدٌ ؕ﴿۷﴾ وَ مَا نَقَمُوْا مِنْهُمْ اِلَّاۤ اَنْ يُّؤْمِنُوْا بِاللّٰهِ الْعَزِيْزِ الْحَمِيْدِ ۙ﴿۸﴾ (پاره:30،اَلْبُرُوج:84)

[مفهوم] ترجمۀ کنزُ العِرفان: د کندې والؤ باندې دې لعنت وي (٤) د لمبې وهونکې وور والا (٥) چې کله هغوئي د هغې په غاړو باندې ناست وو (٦) او هغوئي پخپله په هغې ګواه دي څه چې هغوئي مسلمانانو سره کول (٧) او په هغوئي د مسلمانانو له طرفه صرف هُم دا خبره بده اولګيده چې هغوئي په هغه اللّٰه ايمان راوړو، چې هغه د ډير عِزَّت والا، د هر تعريف لائق دے (٨)

[1]...بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحہ:65، حدیث:1۔

# د کندې والؤ واقعه

په دې آيتونو کښې د **کندې والؤ** ذکر اوشو؟ دا د کندې والا څوک دي؟ د دوئي څه واقعه ده؟ د دې تفصيل د حديثِ پاک په مشهور کتاب مسلم شريف کښې دے. اوږد حديثِ پاک دے، د دې مختصر بيان دا دے چې په پخوانو قومونو کښې يو بادشاه وو، کوم چې به د خدايئ دعوىٰ کوله. خلقو به هغه خپل خدائے منلو او د هغه عبادت به يې کولو. قدرت ته د هغه قوم هدايت منظور شو، **اللّٰه** پاک د هغه قوم يو ځلمي ته هدايت عطا کړو، هغهٔ ته د يو نيک ايماندار بنده صحبت نصيب شو، د کوم په برکت چې هغه کلمه اولوستله او د دينِ حق منونکے جوړ شو. **اللّٰه** پاک هغه ځلمي له اوچت مقام ورکړو، هغهٔ ته يې د خپل ولايت تاج ورپسر کړو او د هغه نه کرامات ظاهريدل شروع شول، د هغه دعا په برکت به ړندو او د برګي مريضانو ته شفا نصيب کيدله، څه موده پس د هغه شهرت تر بادشاه پورې هم اورسيدو. ولې چې د بادشاه د دروغو د خدايئ دعوىٰ او د هغه ټوله ډرامه په خطره کښې د پريو خطره وه. ځکه چې د دغه وَلِيُّ الله په دعاګانو باندې ړندو ته [او نورو بيمارانو ته] هُم داسې شفا ميلاويدله نو بادشاه خو به خلق خُدائے نه منې، ځکه بادشاه د هغه وَلِيُّ الله د وژلو کوششونه اوکړل خو

فانُوس بن کے جس کی حفاظت ہَوا کرے
وہ شمع کیا بجھے جسے روشن خُدا کرے

بادشاه ډير کوششونه اوکړل، کله يې د غر د څُوکې نه ښکته د راغورځولو کوشش اوکړو، هغه هم ناکام شو، کله يې د سمندر مينځ ته د غورځولو او په اوبو کښې د ډوبولو کوشش اوکړو، هغه هم ناکامه شو، آخر هغه ولِيّ کامِل پخپله اووئيل: اے بادشاه! که تهٔ ما شهيد کول غواړې نو د دې يوه طريقه ده، په يو فراخه ميدان کښې ټول خلق راجمع کړه! ما د کجورې په تنه پورې اوتړه او د بِسۡمِ اللهِ رَبِّ الۡغُلَام وئيلو سره ما په غشي اُوولہ!

بادشاه چې دا طريقه واوريده نو ډېر خوشحاله شو، فوراً خلق راجمع کړے شول، په يو ډاګه ميدان کښې د کجورې تنه اولګولے شوه او په هغې پورې هغه وَلِیُّ الله اوتړلے شو، بيا بادشاه غشے په لينده کښې کيښودو، لينده يې راښکله او اوئې وئيل: بِسۡمِ اللهِ رَبِّ الۡغُلَام [يعنې] د الله پاک په نوم چې د دې ځلمي رَبّ دے. دا يې چې اووئيل نو بادشاه غشے اُوويشتو، په غشي د هغه ولِي کامل د غوږ او د تندي مينځ اولګيدو او ساه ئې اوختله.

کله چې خلقو دا قيصه اوليده نو هغه بادشاه چې ځان يـې خدائے ګڼلو، د هغه ټول کوششونه ناکام شول، آخر هم د هغه ځلمي د رَبّ تعالیٰ نوم پکار راغے نو هغوئي پوهه شول چې رښتونے خدائے دا بادشاه نۀ بلکې د دې ځلمي رَبّ دے، نو هغوئي ټولو کلمه اولوستله او د دينِ حق پيروکار [يعنې منونکي] جوړ شول.

بيا خو بادشاه له ډېره غصه ورغله، د هغه د دروغو د خدائي دعویٰ معلومه شوه، خلقو هغه پرېښودے وو او په يو حقيقي خدائے باندې ئې ايمان راوړے وو، لهٰذا بادشاه د غصې نه حکم اوکړو چې: د کوڅو په غاړو کښې دې خندقونه [کندونه] اوکنستے شي او په هغې کښې دې وور بَل کړے شي، د بادشاه حکم پوره کړے شو، بيا بادشاه حکم اوکړو چې کوم کَس خپل دين پرېږدي او ما خدائے نه مني، هغه دې وور ته اوغورځولے شي. د بادشاه په دې حکم هم عمل اوکړے شو، تر دې چې يوه زنانه راغله، د هغې په غيږه کښې يو ماشوم ځوي وو، د هغې ايماندارې زنانه سره خو خپل هيڅ فِکر نه وو، البته د مور مينه په جوش کښې راغله او هغه مور چې خپل بچے اوليدو نو لږه ويريدله (يعنې وور ته د وردانګلو نه لږه اودريدله)، په دې باندې هغه ماشوم اووئيل: مورې! صبر اوکړه...!! پريشانه کيږه مه، بے شکه تۀ په رښتوني دين باندې يې. [1] بيا هغه ماشوم او د

---

1... مسلم، کتاب الزہد والرقاق، باب قصۃ اصحاب الاخدود...الخ، صفحہ:1145، حدیث:3005 خلاصۃً۔

هغه مور هم وور ته اوغورځولے شول. [1]

د روايتونو مطابق د ظالم بادشاه په دې ظلم باندې د **اللہ** پاک غضب په جوش کښې راغے او په لږ وخت کښې هغه وور کوم چې بادشاه د ايمان والؤ د سوزولو د پاره بَل کړے وو، هغه وور د کندې د غاړو نه راووتلو او هغه ظالـمان يې اوسيزل او اِيرې اِيرې يې کړل. [2]

## د قرآني واقعې نه حاصليدونکي سبقونه

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! مونږه د يوې قرآني واقعې د اوريدو سعادت حاصل کړو، په دې واقعه کښې د سبق حاصلولو په لړ کښې زمونږ د پاره ډيرې خبرې دي. مثلاً

## (1): يو مسلمان او ازميښت

د دې واقعې نه معلومه شوه چې د **اللہ** پاک د لورې په ايمان والؤ باندې امتحانونه راځي، کامياب مسلمان هغه دے کوم چې په دې امتحانونو کښې د صبر او شکر سره ثابت قدم پاتې شي.

دا يو غټ سبق دے. دلته د ډيرو خلقو دا خيال وي او بعضې خلق پوښتنې هم کوي چې مونږه مسلمانان يو، **اللہ** پاک منو، د هغه د رسول صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم کلمه لولو، د **اللہ** پاک په حُضُور کښې سر ښکته کوو، د هغه عبادت کوو، او د دې باوجود مونږ په ازميښتونو کښې يو، [څوک دا خيال کوي چې] په مسلمانانو کښې غريبي هم ده، تنګ لاسي هم ده، ازميښتونه هم دي، دا وخت په ټوله دنيا کښې مسلمانان په مختلف قِسمه مشکلاتو کښې اخته دي او د غير مسلمو حالات زمونږه په نسبت ډير ښه دي، هغوئي مالداره هم دي، د هغوئي اوچت اوچت بلډنګونه هم دي، هغوئي خوشحاله هم دي، هر څه

---

1... تفسير صراط الجنان، پاره:30، سورۂ بُرُوج، زيرِآيت:4-7، جلد:10، صفحه:605۔

2... تفسير بغوی، پاره:30، سورۂ بُرُوج، زيرِآيت:5، جلد:4، صفحه:590 خلاصةً۔

ورسره دي. آخر داسې ولې؟ د دې ډېر ساده شان جواب دے، په حديث شريف کښې فرمائيلے شوي دي: اَلدُّنْیَا سِجْنُ الْمُؤْمِنِ وَ جَنَّةُ الْکَافِر دنيا د مسلمان د پاره قيد خانه ده او د کافِر د پاره جنّت ده.

اوس پخپله غور اوکړئ چې په قيد خانه کښې څه وي؟ ازميښتونه، مشکلات، سختې وي. لهٰذا مونږ مسلمانان يو نو په دې دنيا کښې به په مونږ باندې ازميښتونه راځي.

## خلق مسلماني آسانه ګڼي

**اللّٰه** پاک په قرآنِ کريم کښې فرمائي:

اَحَسِبَ النَّاسُ اَنْ یُّتْرَكُوْۤا اَنْ یَّقُوْلُوْۤا اٰمَنَّا وَ هُمْ لَا یُفْتَنُوْنَ۝۲

(پاره:20، العنکبوت:2)

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ الْعِرفان: آيا خلقو دا ګڼـلي دي چې هغوئي به صرف دومره خبره باندې پرېښودے شي چې هغوئي وائي: "مونږه ايمان راوړلو" او د هغوئي ازميښت به نه اخستلے کيږي؟

په تفسير صراط الـجنان کښې دي: د دې نه معلومه شوه چې د مسلمانانو د ايماني قوت مطابق د هغوئي امتحان اخستل، د **اللّٰه** پاک قانون دے. بيماري، ناداري، غريبي، مصيبت، دا هر څه د **اللّٰه** پاک د طرف نه راتلونکي ازميښتونه دي او د دې په ذريعه په مخلصانو او منافقانو کښې فرق کيږي. (1)

## ازميښتونه په ښو [خلقو] باندې راځي

د حضرت اَنَس رضی اللہ عنہ نه روايت دے، رسولِ ذيشان، مکي مَدَني سلطان صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم فرمائيلي دي؟ لوئے ثواب، د لوئي مصيبت سره دے او کله چې **اللّٰه** پاک د يو قوم سره محبت فرمائي نو په هغوئي باندې ازميښتونه راولي، بس څوک چې په دې باندې راضي شو د

---

1... تفسیر صراط الجنان، پارہ:20، سورۂ عنکبوت، زیرِ آیت:2، جلد:7، صفحہ:342۔

هغه د پاره د **اللّٰه** پاک رضا ده او څوک چې په دې ناراضه شو د هغه د پاره ناراضګي ده. [(1)]

یہ شہادت گہِ الفت میں قدم رکھنا ہے
لوگ آسان سمجھتے ہیں مسلماں ہونا

**وضاحت:** یعنې مسلمان کېدل څه معمولي خبره نه ده، د کلمې وئیلو او په اسلام کښې د داخلېدو مطلب دے چې اوس بنده د **اللّٰه** پاک د **محبت** په جذبه کښې د ځان، مال او ټولې سرمایه قربانولو د پاره تیار دے.

## ازمېښت راتلل هم رحمت دے

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** دلته یو وضاحت کووم: په دنیا کښې چې په ایمان والؤ باندې کوم مشکلات او ازمېښتونه راځي، دا هم په اصل کښې د **اللّٰه** پاک رحمت دے. په دې باره کښې یو ایمان تازه کوونکے روایت واورئ! منقول دي: دوه فرښتې وې، یوه فرښته د آسمان نه د زمکې په لور راروانه وه، بله فرښته د زمکې نه د آسمان په لور روانه وه، د دواړو د یو بل سره ملاقات اوشو، یوې فرښتې د بلې نه پوښتنه اوکړه: تاسو د کوم ځائے نه راغلې یې؟ بلې اووئیل: په فلانکي ښار کښې یو غیر مسلمه اوسیږي، هغه ډېر بیمار وو، د هغه آخري وخت بس راتلونکے وو، هغه غیر مسلمه چې په دنیا کښې څومره ښه کارونه کړي وو، د هغه ټولو بدله هغه ته هم په دنیا کښې ورکړے شوې وه (لهٰذا د آخرت د پاره د هغه څه نیکي باقي نه وه، د کومې په بدله کښې چې هغه ته په قیامت کښې څه نعمت میلاو شوے وے) خو! بس یوه نیکي ئې باقي وه. د ژوند په دې آخري ساعتونو کښې د هغه غیر مسلمه مهي خوړلو ته زړۀ اوشو، مهے اولټولے شو خو په ټول ښار کښې چرته هم میلاو نه شو، ما ته **اللّٰه** پاک حکم اوکړو چې د هغه د

[1]...ابنِ ماجہ، کتاب الفتن، باب الصبر علی البلاء، صفحہ:651، حدیث:4031۔

پاره د مهې انتظام اوکړه د پاره د دې چې د هغه چې کومه نيکي پاتې ده، د هغې بدله هم هغه ته په دنيا کښې ميلاو شي (او هغه د آخرت د پاره بالکل کنګال او خالي لاسونه پاتې شي) زه د هغه غير مسلمه د پاره د مهې انتظام کولو د پاره تلے ووم.

هغه فرښتې د خپلې خبرې پوره کولو نه پس د بَلې فرښتې نه پوښتنه اوکړه: تاسو چرته ځئ؟ اوئې وئيل: په فلانکي ښار کښې يو مسلمان دے، د هغه هم آخري وخت دے، د هغه چې څومره ګناهونه وو، د هغې ټولو په بدله کښې د هغه ازميښتونه شوي دي، اوس د هغه په اعمال نامه کښې هيڅ ګناه پاتې نه ده، بس يوه ګناه پاتې ده، په خپلو آخري ساعتونو کښې هغه تږے دے او هغه اوبه څښل غواړي، ما ته حکم شوے دے چې د هغه نه اوبه واړووم د پاره د دې چې د دې ازميښت په بدله کښې د هغه آخري ګناه هم ورانه کړے شي او هغه د ګناهونو نه بالکل پاک صفا د دنيا نه رخصت شي...!!

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! څومره ښکلے شان دے زما د رحمٰن او رحيم **رَبّ**...!! مونږه د هغه بندګان يو، که هغه مونږ ته خوشحالئ راعطا کړي يا مو په ازميښت کښې واچوي، دا د هغه رضا ده، په هر حال کښې هم د هغه احسان دے خو قربان شم! د هغه رحمت څومره فراخه دے، مونږه ګناهونه کوو، ځان د دوزخ حقدار جوړوو او زمونږه قادر او قيوم **رَبّ** په مونږ باندې ازميښتونه راليږي او [د هغې په ذريعه] زمونږه ګناهونه ورانوي او زمونږ د پاره د جنّت لاره آسانوي.

## په ايمان باندې ثابت قدم اوسئ!

خير په ژوند کښې ازميښتونه راځي، غريبي هم راځي، تنګ لاسي هم راځي، مشکلات هم راځي، پريشانئ هم پيښيږي، بعضې وخت بنده سره ظلم هُم کيدے شي. په دې حالاتو کښې مونږ له پکار دي چې صبر اوکړو او د ټولو نه اهمه ذمه واري کومه چې په داسې وخت کښې په مونږ باندې راځي، هغه دا ده چې مونږه **د خپل ايمان پوره حفاظت** اوکړو.

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! مونږ د کندې والؤ قرآني واقعه واوريدله، په دې باندې لږ غور اوکړئ! بادشاه کوم چې د خدايئ دعویٰ کړې وه، هغه ډير ظالم وو، هغه په ايمان والؤ باندې ظلم اوکړو، هغوئي يې ژوندي وور ته اوغورځول، قربان شم چې! هغه ايمان والؤ په وور کښې سوزيدل، مره کيدل منظور کړل خو د خپل ايمان نه يو ذره برابر هم پښا نشول، تر دې چې يوې مور، خپل ماشوم بچے په غيږه کښې اخستے وو، [هغه] د بچې سره وور ته اوغورځولے شوه، هغه هم مرګ ته ورغاړه وتله خو د خپل ايمان سودا يې اونکړه.

دا ډيره د کمال خبره ده، د ډير همت او حوصلې خبره ده، د دې نه سبق ميلاويږي چې يو مؤمن بنده په ايمان باندې هميشه ثابت قدم اوسي، په تکليفونو او مصيبتونو کښې نه ويريږي او په شک کښې نه پريوځي، د هغه په زړۀ کښې شک نه راځي بلکې هغه په خپل ايمان باندې، په خپلو عقيدو باندې، په **الله** پاک باندې په توکل او باور سره کلک ولاړ اوسي، که هغه ته د ګلونو اميل په غاړه کړے شي او که د تيرې ظورې ګزار پرې اوکړے شي، که په اوبو کښې ډوب کړے شي او که د وور شغلو کښې واچولے شي، په هر حال کښې، په هر صورت کښې په استقامت سره د غر په شان ولاړ اوسي.

کاش چې دا سعادت، داسې پوخ ايمان او يقين مونږ ته هم نصيب شي، مونږ ته هم په دين باندې، اسلام باندې، ايمان باندې استقامت رانصيب شي، کاش چې د خپل ايمان د حفاظت سوچ په حقيقي معنو کښې رانصيب شي. آه! په دې دَور کښې ايمان بچ کول ډير ګران شوي دي، د علمِ دين داسې کمے دے چې د **الله** پاک پناه...! ✿ څومره داسې خلق دي چې سندرې وائي، سندرې اوري، خوندونه ترې اخلي، حالانکه په بعضې سندرو کښې کفريه شعرونه هُم وي او دوئي ته هډو پته نه وي، بس په خپله مستئ کښې مست د ځان سره سندرې وائي، ډير په خوند سره [سندرې] اوري. که په سندره کښې کفريه

کلمات نه وي نو بيا هم سندرې سازونه [بخپله] اوريدل، [نورو ته] اورول شيطاني کار دے او د دې دومره سخت عذاب دے چې هيڅ څوک به يې برداشت نکړي. د روايتونو مطابق څوک چې سندرې اوري، د قيامت په ورځ به د هغه په غوږونو کښې وِيلې کړے شوې سيکه اچولے شي. [1] بعضې وخت مصيبت راشي، پريشاني راشي، څوک ځلمے کس مړ شي، ناڅاپه ايکسيډنټ اوشي نو خلق ګيلې کوي، شکايتونه کوي، بعضې نادانه خو به مَعَاذَالله! (د الله پاک پناه) کفريه جملې هم وائي او د ديني معلوماتو د کمي په وجه هغوئي د دې نه خبر هم نه وي چې دا کفريه جمله ده کومه چې د اسلام نه ويستل کوي بعضې نادانه د غير مسلمو طريقې اختياروي، د هغوئي په مذهبي رسمونو کښې شامليږي، څه دنيائي فائده يې وي، لالچ يې وي، د پيسو حِرص يې وي او په دې چکر کښې يې مَعَاذَالله! د ايمان په لور توجه نه وي، د الله پاک د ناراضګئ طرف ته يې خيال نه وي، په زړه کښې يې د الله پاک نه د ويرې کمے وي، د عشقِ رسول کمے وي او داسې هغه د غير مسلمو د صحبت په وجه، د هغوئي په مذهبي رسمونو کښې د برخې اخستو په وجه بعضې ځل د ايمان سودا کړې وي، د کفر توره تيارۀ کوهي ته غورځيدلي وي او د خپل ايمان د دولت لوټ کيدو احساس هم ورسره نه وي.

مسلماں ہے عطّار تیری عطا سے | ہو ایمان پر خاتمہ یاالٰہی! [2]

## د کُفر نه نفرت ضروري دے

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! مونږه مسلمانان يو، يقيناً دا د الله پاک ډير لوئي نعمت دے، زمونږه کلمه وئيل، مسلمانيدل به اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِيم! [زمونږ د پاره] د دوزخ

---

[1] ...کنزالعمال، کتاب اللھو واللعب والتغنی، جلد:8، جز:15، صفحہ:96، حدیث:40662۔

[2] ...وسائلِ بخشش، صفحہ:105۔

نه د بچ کیدو او جنّت ته د تللو ذریعه جوړه شي خو یاد ساتئ! د دوزخ نه د بچ کیدو او د جنّت د حقدار جوړیدو د پاره صرف [په دې دنیا کښې] مسلمانیدل کافي نه دي بلکې د دنیا نه ایمان سلامت وړل هم ضروري دي. ځکه مونږ له پکار دي چې مونږه د خپل ایمان فِکر اوکړو، **اللّٰه** پاک مونږ ته د ایمان دولت عطا کړے دے، چې د دې قدر هم اوکړو، د دې شکر هم ادا کړو او ورسره ورسره د کفر نه نفرت هم اوکړو. په حدیثِ پاک کښې دي: په چا کښې چې دا درې خبرې وي، هغه به د ایمان حلاوت (یعنې خوږ والے) بیامومي (په هغه دریو کښې یې یوه خبره دا ارشاد کړې ده چې:) هغه د ایمان نه پس د کفر په لور تلل داسې ناخوښه ګڼي، لکه څنګه چې وور ته غورځیدل ناخوښه ګڼي. (1)

معلومه شوه چې ایمان والا پاتې کیدل، د ایمان د سلامتیا سره قبر ته کوزیدل او د دې په ذریعه د جنّت حقدار جوړیدو د پاره ضروري دي چې **مونږه د کُفر نه هر وخت نفرت کوو.**

## درې بهادران ورونه

علّامه اِبنِ جوزي رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه یوه ډیره ایمان تازه کوونکې واقعه ذِکر کړې ده، واقعه څه داسې ده چې درې ځلمي بهادران ورونه وو، هغوئي دریو واړو به د اسلامي لښکر سره په شریکه جهاد کولو، یو ځل داسې اوشول چې رُومیانو په مسلمانانو باندې سخته حمـله اوکړه، ډیر مسلمانان پکښې شهیدان شول او ډیر زیات قیدیان شول، دا درې واړه ورونه هم قید کړے شول. رُومي بادشاه په جنګ کښې د دې دریو واړو بهادري لیدلې وه، بادشاه دې دریو واړو ته یو پیشکش اوکړو، اوئې وئیل چې: که تاسو اسلام پریږدئ نو زه به ستاسو سره د خپلو لوڼو وَدونه اوکړم او راتلونکې بادشاهي به هم تاسو ته حواله کړم.

---

1...بخاری، کتاب بدءالایمان، باب من کرہ ان یعود فی الکفر...الخ، صفحہ:75، حدیث:21ملتقطًا۔

اوګورئ! دا څومره لوئي پيشکش دے...!! د شهزادګو سره وَدونه، بيا بادشاهي يعني بغير د څه محنت نه عزت، شهرت، مال او دولت بلکې تاج او تخت هم ميلاويږي خو قربان شم! دې دريو واړو وروڼو د بادشاه پيشکش قبول نه کړو او ايماني جذبه کښې يې د سرکارِ عالي وقار، مکي مدني تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په بارګاه کښې فرياد شروع کړو.

په دې باندې بادشاه له ډيره غصه ورغله، هغه درې ديګونه راوغوښتل، په هغې کښې يې تيل واچول او په وور يې کيښودل، هره ورځ به درې واړه وروڼه د هغه ديګونو خوا له بوتللے کيدل او بادشاه به ورته خپل پيشکش کولو چې اسلام پريږدئ نو زه به تاسو درې واړه خپل زومان هم جوړ کړم او راتلونکې بادشاهي به هم تاسو ته ميلاويږي. دې دريو واړو وروڼو به هر ځل د بادشاه پيشکش رد کولو.

آخر په دريمه ورځ بادشاه په هغوئي کښې مشر ورور راوغوښتو، يو ځل يې ورته بيا هم هغه پيشکش اوکړو، کله چې هغه مردِ مجاهد پيشکش قبول نه کړو نو هغه يې خوټکيدلو تيلو ته اوغورځولو، په لږ وخت کښې د هغه ټوله غوښه او څرمن اوسوزيدل او هډوکي يې د تيلو په سر ګرځيدل شروع شول. بادشاه دويم ورور راوغوښتو، هغه ته يې هم دغه پيشکش اوکړو، چې کله هغه هم اونه منله نو هغه يې هم خوټکيدلو تيلو ته اوغورځولو.

بيا دريم او د ټولو نه آخري ورور راوستلے شو، نزدې وه چې هغه هم خوټکيدلو تيلو ته غورځولے شوے وے او شهيد کړے شوے وے، چې يو درباري اووئيل: بادشاه سلامت! که زه دے د ايمان نه واړووم نو ما ته به څه انعام ميلاويږي؟ بادشاه اووئيل: زه به تا د خپل فوځ سپه سالار [يعني کمانډر] جوړ کړم. هغه درباري هغه بهادر ځلمے د ځان سره بوتلو او خپله پيغله ښائسته او ښکلې لور يې د هغه سره يواځې پريښودله.

يعني وړومبے د مال او دولت لالچ ورکولو په ذريعه د هغه د ايمان اخستلو کوشش اوکړے شو، بيا د حُسن او جمال په جال کښې د ګيرولو کوشش اوکړے شو خو دا ځلمے

د **الله** پاک نیک او با حیا بنده وو، څلویښت [40] ورځې بلکې د دې نه هم ډېره موده هغه ښکلې او ښائسته جینۍ د هغه سره وه خو هغه کله هم هغې ته بره اونه کتل بلکې د هغه معمول دا وو چې د ورځې به یې روژه نیوله او ټوله شپه به یې نفلونه کول. آخر یې چې د هغه کامِل ایمان والا ځلمي کردار، ثابت قدمي او حیا اولیدله نو هغه جینۍ ډېره متاثره شوه، هغې ته د ایمان د اخستو ذمه داري ورکړے شوې وه خو د مسلمان ځلمي اخلاق یې چې اولیدل نو هغه پخپله مسلمانه شوله. (1)

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! تاسو اوکتل چې دغه دریو واړو شامي ورونړو په ایمان باندې د استقامت څومره ښکلې مظاهره اوکړه، د هغوئي په زړونو کښې د ایمان قدر وو، هغوئي د عشق صرف په خُله دعوې کوونکي نۀ بلکې په صحیح معنو کښې **مخلصه عاشقانِ رسول** وو. دواړو ورونړو د شهادت جامونه اوڅښل او د جَنَّتُ الفردوس د نعمتونو حقدار جوړ شول او دریم د روم ښکلې [جینۍ] ته هډو اونه کتل او شپه ورځ د **الله** پاک په عبادت کښې مصروفه اوسیدو. کاش چې مونږ ته هم په ایمان باندې داسې استقامت رانصیب شي، که سخته راشي، که پریشاني راشي، که غریبي او تنګ لاسي راشي، که خلق مو تنګ کړي، پیغورونه راکړي، که څه هم اوشي خو مونږ چرې هم د ایمان سودا اونکړو.

| | |
|---|---|
| مٹا میرے رنج و الم یااِلٰہی | عطا کر مجھے اپنا غم یااِلٰہی |
| شرابِ محبّت کچھ ایسی پلا دے | کبھی بھی نشہ ہو نہ کم یااِلٰہی |
| مجھے دیدے ایمان پر استقامت | پئے سیدِ محتشم یا اِلٰہی |
| خُدایا بُرے خاتمے سے بچانا | پڑھوں کلمہ جب نکلے دَم یااِلٰہی |

1 ...عُیُونُ الحکایات، صفحہ:197 خلاصۃً۔

## (2): تکليف مه ورکوئ!

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! مونږه د کندې والؤ واقعه واوريدله، د دې قرآني واقعې نه چې کومه اهمه خبره مونږ ته د زدکړې د پاره ميلاو شوه، هغه الله پاک په قرآنِ کريم کښې ذکر کړې ده، ارشاد فرمائي:

| | |
|---|---|
| اِنَّ الَّذِيۡنَ فَتَنُوا الۡمُؤۡمِنِيۡنَ وَالۡمُؤۡمِنٰتِ ثُمَّ لَمۡ يَتُوۡبُوۡا فَلَهُمۡ عَذَابُ جَهَنَّمَ وَلَهُمۡ عَذَابُ الۡحَرِيۡقِ ۝١٠ (پاره:30، البروج:10) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ الْعِرفان: بيشکه کومو خلقو چې مسلمانان سړي او مسلماني زنانه په ازميښت کښې اخته کړلې بيا ئې توبه اونکړه د هغوئي د پاره د دوزخ عذاب دے او د هغوئي د پاره د وور عذاب دے (۱۰) |

معلومه شوه چې مسلمان له تکليف ورکول ډيره سخته ګناه او خوفناک جرم دے، د دې سزا ډيره خطرناکه ده. اوګورئ! بادشاه کوم چې د خدايئ دعوىٰ کوله، هغه مسلمانانو ته ناحقه تکليف اورسولو، هغوئي يې وور ته اوغورځول، د هغې نتيجه څه راووتله...؟ د الله پاک قهر او غضب په جوش کښې راغے او بادشاه او د هغه سپاهيان په خپل بَل کړے شوي وور کښې اوسوزيدل او اِيره شول.

اَلْاَمَانُ وَالْحَفِيظ! الله پاک دې مونږه د داسې خطرناک جرم او خوفناکې سزا نه محفوظ اوساتي.

| | |
|---|---|
| حقوق العباد! آہ! ہو گا مرا کیا؟ | کرم مجھ پہ کر دے کرم یااِلٰہی! |
| مجھے نارِ دوزخ سے ڈر لگ رہا ہے | ہو مجھ ناتُواں پر کرم یااِلٰہی! |

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! ډيره د افسوس خبره ده چې نن سبا مسلمانانو له تکليف ورکول ډيره معمولي خبره ګڼلے کيږي، خلق يو بل له تکليف ورکوي او بالکل هم نه ويريږي ❁ څوک په چغليانو نورو له تکليف ورکوي ❁ څوک په کنځلو کولو د نورو زړۀ خفه کوي ❁ [بعضې خلق] د نورو مال په ناحقه قبضه کولو ❁ [بعضې خلق] بے قصوره د بے ځايه غصې کولو په ذريعه ❁ په وهلو ❁ په قتل کولو ❁ [بعضې] خلق د

دروغو په مقدمو کښې د راګیرولو په ذریعه ❀ په ناپ تول کښې د کمي کولو په ذریعه ❀ د مال لوټ کولو په ذریعه ❀ په خلقو پورې په خندا کولو ❀ په پیغورونو ورکولو ❀ د پرینک [یعنې ټوقو] په نوم باندې د نورو عزتِ نفس ته نقصان رسولو باندې ❀ په سوشل میډیا د ویډیوز وائرل کولو په ذریعه او ❀ پته نه لګي چې په کوم کوم انداز کښې نورو له تکلیف ورکولے شي او د دې نه هم زیاته خطرناکه خبره دا ده چې نورو له په تکلیف ورکولو باندې خوشحالیږي، په دې خبره ځان بهادر ګڼي، نورو له دهوکه ورکول خپله عقلمندي ګڼي، لهٰذا نه د توبې په لور ځي او نه د خپل آخرت فِکر کوي.

ګناه خو یـې اوکړه، خو که په دې باندې پښیمانتیا اختیار کړي نو دا هم غټه خبره ده خو افسوس! نن سبا څوک د چا په زړهٔ خفه کولو هم نه شرمیږي. اے کاش چې زمونږ په زړونو کښې د مسلمانانو عزت پیدا شي، مونږه د خپلو مسلمانانو وروڼو احترام اوپیژنو. یقین اوکړئ! په اسلام کښې امن او سکون، ورورولي او خپل مینځ کښې میني محبت ته ډیر اهمیت ورکړے شوے دے، کوم خلق چې دې اسلامي ورورولۍ ته نقصان رسوي، یا خپلو مسلمانانو وروڼو له تکلیف ورکوي یا د هغوئي عزت نفس ته نقصان رسوي، هغه ډیر بد خلق دي.

## د ښه او بد انسان پیژندګلو

یو ځل رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم صحابهٔ کرامو عَلَيهِمُ الرِّضوَان ته اوفرمائیل چې آیا زه تاسو ته د ښه او بد په باره کښې اونه وایم؟ یو کَس عرض اوکړو: آو جي یا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! مونږ ته زمونږ د بدو او ښو په باره کښې اووائیئ! اوئې فرمائیل: ستاسو ښه کَس هغه دے د کوم نه چې د خیر اُمید اوکړے شي او د هغه د شر نه امن وي او ستاسو بد هغه کَس دے د کوم نه چې د

خير اُميد اونکړے شي او د هغه د شر نه امن نه وي. [1]

د دې حديثِ پاک د شرحې خلاصه دا ده چې هغه بنده چې د خلقو زړونه د هغه د طرف نه مطمئين وي، خلق د هغه په باره کښې دا اعتماد ساتي چې دا کَس چا له تکليف نه ورکوي بلکې چې څومره ترينه کيدے شي د نورو خير لټوي، داسې کَس ډير ښه دے خو د کوم بنده نه چې خلق ويريږي، د هغه نه د خير اميد نه ساتي، د هغه د شر نه د بچ کيدو کوشش کوي نو داسې کَس ډير زيات بد انسان دے. [2]

## د مسلمان وينه، مال او عزت په بل مسلمان باندې حرام دي

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! زمونږه ښکلے مذهب اسلام د هر مسلمان د ځان، مال او عزت د تحفظ ضمانت ورکوي. د حضورِ پاک، صاحبِ لولاک صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: كُلُّ الْمُسْلِمِ عَلَى الْمُسْلِمِ حَرَامٌ دَمُهٗ وَمَالُهٗ وَعِرْضُهٗ يعنې د هر مسلمان وينه، مال او عزت په بَل مسلمان باندې حرام دي. [3]

د قرآنِ کريم مشهور مفسر، حکيم الاُمّت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د دې حديثِ پاک لاندې ليکي: يو مسلمان دې د بَل مسلمان مال بغير د اجازت نه نۀ اخلي، د چا عزت ته دې نقصان نه رسوي، يو مسلمان دې ناحقه او په ظلم سره نه وژني چې دا د ټولو نه سخت جرمونه دي. [4]

مفتي صاحب په يو بَل ځائے کښې ليکي: مسلمان خو مۀ په زړۀ کښې سپک ګڼۀ! مۀ هغه ته په بدو الفاظو غږ کوۀ! مۀ يې په بد لقب سره يادوۀ! مۀ ورپورې ټوقې کوۀ!

---

1 ...ترمذی، کتاب الفتن، باب:72، صفحہ:544، حدیث:2263۔

2 ...مرآۃ المناجیح، جلد:6، صفحہ:579 خلاصۃً۔

3 ...مسلم، کتاب البر والصلۃ، باب تحریم ظلم المسلم...الخ، صفحہ:995، حدیث:2564۔

4 ...مرآۃ المناجیح، جلد:6، صفحہ:553۔

نن سبا په مونږ کښې دا عیب ډیر زیات دے، د پیشې، نسب یا غریبۍ وغیره په وجه مسلمان ورور سپک ګڼو چې هغه پنجابے دے، هغه بنګالے دے، هغه سندهے دے، هغه سرحدي دے، اسلام دا ټول فرق ختم کړے دے. د شاتو مچۍ چې د مختلفو ګلونو رَس اوڅښې نو هغې ته شات وئیلے شي. مختلف لرګي چې اوسیزلے شي نو هغې ته اِیره وئیلے شي. هم داسې چې د حُضُور (صَلَّی اللهُ عَلَیهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) لـمن یې اونیوله نو ټول مسلمانان یو شول، که حبشي وي او که رُومي! [1]

دامنِ مصطفٰے سے جو لپٹا یگانہ ہوگیا
جس کے حضور ہوگئے اس کا زمانہ ہوگیا

**په طَبَرانِي شریف کښې دي،** د رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللهُ عَلَیهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د عبرت نه ډک فرمان دے: مَنْ اٰذٰی مُسْلِمًا فَقَدْ اٰذَانِیْ وَمَنْ اٰذَانِیْ فَقَدْ اٰذَی اللّٰہَ (یعنې) چا چې (بغیر د څه شرعي وجهې نه) کوم مسلمان له تکلیف ورکړو هغه ما له تکلیف راکړو او چا چې ما له تکلیف راکړو هغه **الله** پاک له تکلیف ورکړو. [2]

خدایا! کسی کا نہ دل میں دکھاؤں
اماں تیرے اَبدی عذابوں سے پاؤں

## بدترین جُرم

حضرت فُضَیل رَحمَةُ اللهِ عَلَیه فرمائیلي دي چې سپي او خِنزیر له هم ناحقه تکلیف ورکول حلال نه دي نو مسلمانانو له تکلیف ورکول خومره بدترین جرم دے. [3]

---

1…مرآۃ المناجیح، جلد:6، صفحہ:552 ملتقطاً۔
2…معجمِ اوسط، جلد:2، صفحہ:387، حدیث:3607۔
3…تفسیر خزائن العرفان، پارہ:22، سورۂ احزاب، زیرِ آیت:58، صفحہ:789۔

## وور ته به غورځولے شي

د مدينے تاجدار، د رسولانو سالار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم پوښتنه اوکړه: آيا تاسو ته معلومه ده چې مفلس څوک دے؟ صحابۀ کرامو عَلَيهِمُ الرِّضْوَان عرض اوکړو: يا رسولَ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم ! په مونږ کښې چې د چا سره درهم (يعنې مال او دولت) او سامان نه وي هغه مفلس دے. اوئې فرمائيل: زما په اُمت کښې مفلس هغه دے څوک چې د قيامت په ورځ نـمونځونه، روژې او زکوٰة راوړي او داسې راشي چې ده ته يې کنځل کړي وو، په هغه يې تهمت لګولے وو، د ده مال يې خوړلے وو، د هغه وينه يې توئې کړې وه، هغه يې وهلے وو نو د ده د نيکو نه به څه دې مظلوم له ورکړے شي او څه به هٰغه مظلوم له، بيا که د دۀ په ذمه چې کوم حقونه وو د هغې د ورکولو نه مخکښې د ده نيکۍ ختمې شي نو د هغه مظلومانو ګناهونه به راواخستے شي او په دې ظالم به انبار کړے شي بيا به دے وور ته اوغورځولے شي. [1]

## بد بد کتل هم منع دي

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! اسلام داسې ښکلے دين دے چې څوک وهل، چا ته کنځلې کول، د چا مال لوټ کول يا د چا عزتِ نفس ته نقصان رسوَل خو غټه خبره ده، مونږ که په غصه کښې چا ته بد بد اوګورو، زمونږه اسلام مونږ له د دې خبرې اجازت هم نه راکوي. رسولَ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوک چې خپل ورور ته په ويرووونکي نظر بد بد اوګوري **اللّٰه** پاک به د قيامت په ورځ هغه ويروي. [2]

د قرآنِ کريم مشهور مفسر، حکيم الاُمّت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيه د دې

---

1... مسلم، کتاب البر والصلة، باب تحريم الظلم، صفحه:1000، حديث:2581 بتغير قليل۔
2... شُعَبُ الْاِيمان، باب في طاعة اولي الامر، فصل في ذكر...الخ، جلد:6، صفحه:50، حديث:7468۔

حدیثِ پاک لاندې لیکي: د وروړ نه مُراد مسلمان وروړ دے یعنې څوک چې یو مسلمان ته بے قصوره په سخت نظر بد بد اوګوري او هغه اُوویروي، ګنې قصور وار ته بد بد کتل او هغه ویرول ضروري دي. (نور لیکي:) د دې نه اشارةً معلومه شوه چې مسلمان وروړ ته د رحمت په نظر کتل ثواب دے چې **اللّٰه** پاک به داسې کس ته د کرم په نظر ګوري. (1)

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! غور اوکړئ! څومره ښکلې خبره ده، که مونږ چا ته بد بد اوګورو او په هغه بد اولګي، تکلیف ورته اورسي، مونږ ته د دې هم اجازت نشته. کاش چې مونږ د خلقو خیر خواه، د خپلو مسلمانانو وروڼو سره محبت لرونکي، نیک، همدرد او رحمدله مسلمان جوړیدو کښې کامیاب شو.

## خلقو له د تکلیف ورکولو سزا

یو ګس به د حضرت حَسَن بصري رحمۃ اللہ علیہ مجلس ته راتللو او خلقو له به یې تکلیف ورکولو، کله چې د هغه د شرارتونو سلسله د حد نه زیاته شوه نو هغوئي دعا اوفرمائیله: اے **اللّٰه** پاکه! تهٔ د دې ګس [خلقو ته] د تکلیف ورکولو نه ښه خبر یې، تهٔ چې څنګه غواړې مونږ ته د ده په معامله کښې کفایت راکړې. هم هغه وخت هغه ګس راپریوتو او مړ شو او د هغه مړے په کټ کښې واچولے شو او د هغه کور ته یوړے شو. (2)

## د هلک په ښپه باندې یې ښپه راغله

د حضرت مِسعَر بن کِدام رحمۃ اللہ علیہ نه روایت دے: یوه ورځ مونږ د امامِ اعظم رحمۃ اللہ علیہ سره په یو ځائے تیریدلو چې په بے خیالئ کښې د امامِ اعظم رحمۃ اللہ علیہ ښپه مبارکه د یو هلک په ښپه د پاسه راغله، هلک چغه ووهله او د هغه د خُلې نه بے اختیاره

---

1... مرآۃ المناجیح، جلد:5، صفحہ:369،370 ملتقطاً۔

2... جامع العلوم والحکم، الحدیث الثامن والثلاثون، صفحہ:376۔

ووتل: يَا شَيْخُ اَلَا تَخَافُ الْقِصَاصَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ! يعنې جناب! آيا تاسو د قيامت په ورځ د **الله** پاک د اخستونکي انتقام نه نۀ ويريږئ؟ دا يې چې واوريدل نو امام اعظم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه اُوويريدو او بے هوشه شو او زمکې ته يې تشريف راوړلو، کله چې څه وخت پس په هوش کښې راغلو نو ما عرض اوکړو چې د يو هلک په خبره تاسو دومره ولې وَيَريدئ؟ اوئې فرمائيل: څه معلوم د هغه آواز غيبي هدايت وي. [(1)]

عطا ہو خوفِ خدا خدارا دو الفتِ مصطفٰے خدارا
کروں عمل سنّتوں پہ ہر دم امامِ اعظم ابو حنیفہ[2]

## د بَدې خاتمې څلور اسباب

په شرحُ الصُّدور کښې دي: بعضې علمائے کرام رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِم فرمائي: د بدې خاتمې څلور اسباب دي **(1):** په نمونځ کښې سستي **(2):** شراب څښل **(3):** د مور پلار نافرماني **(4):** مسلمانانو له تکليف ورکول. [(3)]

مجھے دیدے ایمان پر اِستقامت | پئے سیّدِ مُحتَشَم یا الٰہی[4]

## (3): مهې کوته اوچيچله

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** خلقو له تکليف ورکول دومره سخته ګناه ده چې د دې سره د **الله** پاک غضب په جوش کښې راځي او بعضې وخت د دې خطرناکې ګناه سزا په دنيا کښې هم ورکولے شي. حضرت امام محمد بن احمد ذَهبي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ليکي: يو

---

[1]...اَلْمَنَاقِب لِلْمُوَفَّق، الباب السابع والعشرون فی ذکر فضائل لہ شتی، جلد:2، صفحہ:148۔
[2]...وسائلِ بخشش، صفحہ:573۔
[3]...شرحُ الصُّدور، الباب العاشر، باب علامۃ خاتمۃ الخیر، صفحہ:28۔
[4]...وسائلِ بخشش، صفحہ:110۔

بزرګ یو ګس اولیدو د کوم لاس چې د اُوګې پورې کټ شوے وو او هغه دا آواز کولو چې چا زه اولیدم هغه دې هیڅکله هم په چا باندې ظلم نه کوي. ما د هغه نه د معاملې پوښتنه اوکړه نو هغه اووئیل: زما معامله ډیره عجیبه ده، زه د بدماشانو ملګرے ووم، یوه ورځ ما د یو مهیانو والا نه مهے په زور واخستو او د کور په لور روان شوم، په لاره کښې مهي زما غټه ګوته اوچیچله، په څه طریقه زه کور ته اورسیدم نو مهے مې یو اړخ ته اوغورځولو. د ګوتې د درد او تکلیف په وجه ما ټوله شپه خوب اونکړو. سحر چې شو نو زه د طبیب خوا له لاړم او خپله زخمي ګوته مې ورته اوښودله. هغه اووئیل ګوته به کټ کول وي، لِـهذا ما پرې خپله ګوته کټ کړه. بیا یوه ورځ زما لاس زخمي شو نو زوړ زخم بیا تازه شو، په ما ډیر تکلیف وو، زه د طبیب خوا له لاړم نو هغه راته د لاس کټ کولو اووئیل، زما لاس هُم کټ شو خو درد ټول مَټ ته خور شو. په ما ډیر تکلیف وو لږ ساعت له هم سکون نه راتللو نو وړومبے تر څنګلې پورې او بیا ئې تر اُوګې پورې رانه لاس کټ کړو، بعضې خلقو زما نه د تکلیف شروع کیدو د سبب پوښتنه اوکړه نو ما هغوئي ته د مهي والا واقعه بیان کړه، هغوئي اووئیل: که تهٔ په شروع کښې د مهي والا خوا له تلے وے او معافي دې غوښتے وے او هغه دې راضي کړے وے نو کیدے شي چې ته د دې اندامونو کټ کولو نه بچ شوے وے، اوس هم وخت دے د هغه ګس خوا له لاړ شه او هغه رضا کړه د دې نه مخکښې چې دا تکلیف په ټول بدن کښې خور شي. ما په مشکله د مهیانو والا اولټوو او د معافئ غوښتلو د پاره د هغه په ښپو پریوتم. هغه پریشانه شو او پوښتنه یې رانه اوکړه: تهٔ څوک یې؟ ما اووئیل: زه هم هغه ګس یم چا چې ستا نه مهے په زور اخستے وو، بیا ما هغه ته ټول تفصیل بیان کړو او کټ کړے

شوے لاس مي ورته اوښودو نو هغه هم په ژړا شو او اوئې وئيل: زما وروره! ما تهٔ معاف کړې. ما هغه ګواه جوړ کړو او بيا د پاره مې په چا باندې د ظلم کولو نه توبه اوکړه. (1)

## د قوت او طاقت نشه

خوږو او محترمو اسلامي ورونو! يوه ډيره خطرناکه باطني بيماري ده: د قوت نشه. مونږ له دا بيماري په ځان کښې ختمول پکار ده ځکه چې ظلم عموماً هغه کوي په چا کښې چې د قوت او طاقت نشه وي.

تاريخِ اُمَم کا يه پيامِ ازلی ہے | اے صاحبِ نظراں! نشۂ قُوَّت ہے خطرناک

دا هم ياد ساتئ! د طاقت او قوت په نشه کښې طاقت ضروري نه دے، ډير ځل بعضې کس طاقت نه لري، خو په خپل ګمان کښې ځان طاقتور ګڼي. مولانا رُوم رحمۃ اللہ علیہ فرمائي:

نَفْسِ کَسْ رَا فِرْعَوْن نيست | لَيْک اُوْ رَا عَوْن کَسْ رَا عَوْن نيست

**ترجمه:** ښوک دے د چا چې نفسِ اَمَّاره فرعون نه دے، خو! د مصر فرعون ته تخت ميلاو شوے وو، هر چا ته تخت نه ميلاويږي.

دا اصل خبره ده، ښوک چې په ځان کښې د طاقت او قوت دا نشه ختمه کړي، **ځان** لوئے نه ګڼي، خپل نفس قابو کښې ساتي يعنې په ځان کښې دننه فرعون مړ کړي نو په حقيقت کښې هغه ګس د ظلم نه بچ کيدے شي. په معاشره کښې غور اوکړئ! ښوک چې عاجزئ والا وي، هغه چرې هم نورو له تکليف نه ورکوي، که په ناخبره کښې کله چا ته څه اووائي نو هم زر ترينه معافي اوغواړي او ښوک چې د عاجزئ والا نه وي، ښوک چې خپل ځان څه ګڼي، هغه په وړه وړه خبره جګړې ته بَدېې وهي.

ځکه مونږ ته پکار دي چې خپل دننه فرعون (يعنې نفسِ اماره) قابو کړو، عاجزي

---

1...الکبائر، الکبیرۃ السادسۃ والعشرون ظلم، فصل فی الحذر...الخ، صفحہ:80 ملتقطًا۔

اختيار کړو. حضرت سليمان عَلَيْهِ السَّلَام د **الله** پاک نبي دے، د هغوئي ډيره مشهوره درباري مرغئ ده: هُدهُد [ملا چرګک] . يو ځل هُدهُد د حضرت سليمان عَلَيْهِ السَّلَام د اجازت نه بغير چرته لاړو، د هُدهُد په دې حرکت حضرت سليمان عَلَيْهِ السَّلَام سخت خفه شو او اوئې فرمائيل: هُدهُد چې واپس راشي نو زه به ورله سزا ورکووم. کله چې هُدهُد واپس راغلے او اوئې کتل چې حضرت سليمان عَلَيْهِ السَّلَام په جلال کښې دے نو هغه عاجزي اوکړه، [او په داسې حال کښې] حاضر شو چې خپلې وَزرې يې په زمکه راښکلې او چې موقع يې اوموندله نو د ادب په کربشه کښې دننه يې د قيامت په ورځ په بارګاهِ اِلٰهی کښې د پيش کيدو ذِکر اوکړو، بس چې د قيامت ذکر يې واوريدو نو حضرت سليمان عَلَيْهِ السَّلَام [د **الله** پاک د ويرې نه] اوږيدو او هُدهُد يـې معاف کړو. (1)

**الله** پاک دې مونږ ته هم د **الله** پاک نه ويره رانصيب کړي، کاش چې مونږه د عاجزئ نمونې جوړ شو، کاش چې پاخه رښتوني حُسيني جوړ شو او هميشه شريف اوسو، مظلومان که جوړ شو نو خير دے خو چې ظالـمان چرې هم جوړ نه شو.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم .

## په 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار: مَدَني مذاکره

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! د عاشقانِ رسول په صحبت کښې پاتې کيدل هم د عشقِ رسول د زياتولو يوه طريقه ده، لهٰذا د عاشقانِ رسول ديني تحريک دعوتِ اسلامي ديني ماحول سره خپل تړون مضبوط ساتئ، په 12 ديني کارونو کښې هم پوره برخه اخلئ، اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! زړه به مو روښانه شي، عشقِ رسول به درنصيب شي، د **الله** پاک محبت به مو نصيب شي او د دين او دنيا بے شميره خيرونه به مو نصيب شي. د دعوتِ

---

1... تفسیر خازِن، پارہ:19، سورۂ نمل، زیرِ آیت:21، جلد:3، صفحہ:342 خلاصۃً۔

اسلامي په 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار **مَدَني مذاکره** هم ده.

شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت حضرت علّامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطّار قادري رضوي ضيائي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه هره هفته د ماسخُتن د نـمانځه نه پس په مدني چينل باندې براهِ راست (*Live*) **مدني مذاکره** کوي يعني د ټولې دنيا نه د عاشقانِ رسول د پوښتنو د عِلم او حکمت نه ډک جوابونه ارشاد فرمائي. تاسو هم پابندئ سره د **مدني مذاکرې** کتلو، اوريدلو کوشش کوئ.

## د ماډرن ځلمي توبه

د منډي بهاؤ الدين (صوبه پنجاب، پاکستان) د اوسيدونکي يو اسلامي ورور د ليک خلاصه ده چې د دعوتِ اسلامي ماحول ته راتلو نه مخکښې ما د ګناهونو په هلاکوونکو کندو کښې در په در ټوکرې خوړلې. هر وخت به مې په زړه او دماغو کښې د فيشن خيال وو او د نيکو نه لرې د دنيا په رنګينو کښې مې ژوند بربادولو. يو ځل يو مبلغ د دعوتِ اسلامي زيرانتظام کيدونکي د آخرئ عشرې د اجتماعي اعتکاف ډير ښه ترغيب راکړو، د هغې په نتيجه کښې د **اللّٰه** پاک په فضل او کرم سره ما ته د اعتکاف سعادت رانصيب شو، د اجتماعي اعتکاف خوندور ماحول، زړه راښکونکي بيانونه، د پيشمني او روژه ماتي روحاني نظارې مې ډيرې خوښې شوې، په کرم د پاسه کرم دا چې د اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه علمي او روحاني **مدني مذاکرو** او د ژړا نه ډکو دُعاګانو مې د زړه نه د ګناهونو زنګ لرې کړو. زما د ګناهونو د تورو تيارو ژوند کښې د عشقِ مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم رڼا خوره شوه. ما د خپلو ګناهونو نه رښتونې توبه اوکړه او د امير اهلسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه نه مې د بيعت [يعني د مُريد کيدلو] شرف هُم حاصل کړو، **اَلْحَمْدُلِلّٰه!** ګيره مبارکه مې پريښوده، عِمامه مې په سر کړه او د سُنَّتو نه ډک ژوند تيرولو د پاره مې د دعوتِ اسلامي ديني ماحول اختيار کړو.

مقبول جہاں بھر میں ہو دعوتِ اسلامی | صدقہ تجھے اے ربِّ غفّار! مدینے کا

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د لـمونځونو د وختونو (Prayer Times) د ایپ تعارُف

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د دعوتِ اسلامي آئي ټي ډيپارټمنټ يو ډير ښکلے موبائل ايپلي کيشن د اوقاتِ نماز (د لـمونځونو وختونه) *(Prayer Times)* په نوم جاري کړے دے ❀ د دې ايپلي کيشن په ذريعه په ټوله دنيا کښې د هر ځائے وختونه او د قبلې اړخ معلوميدے شي ❀ د دې نه علاوه د پينځه واړو لـمونځونو د وختونو ماهانه ټائم ټيبل ❀ ذِکرونه (روحاني علاج) ❀ مدني چينل ريډيو ❀ د لـمونځونو په وختونو کښې د موبائل سائلنټ (*Silent*) کولو سهولت او اسلامي کليندړ موجود دے. په خپل موبائل کښې دا ايپلي کيشن انسټال کړئ او نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ.

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د بيان په آخره کښې د سُنّتو فضيلت او د ژوند د ځينو آدابو بيانولو سَعَادت حاصلووم. تاجدارِ رسالت، شهنشاهِ نبوت صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِیْ فَقَدْ اَحَبَّنِیْ وَمَنْ اَحَبَّنِیْ کَانَ مَعِیَ فِی الْجَنَّةِ چا چې زما د سُنّتو سره محبت اوکړو هغه زما سره محبت اوکړو او چا چې زما سره محبت اوکړو هغه به په جنّت کښې زما سره وي.[1]

ہر کام شریعت کے مطابِق میں کروں کاش! | یاربّ! تو مبلّغ مجھے سُنّت کا بنا دے (2)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

---

1...تاریخ دمشق، جلد:9، صفحہ:343۔

2...وسائل بخشش، صفحہ:115۔

# د انتروشي سنتونه او آداب

د نبي كريم صلی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم دوه فرامين: (1): د الله پاک انتروشے [پرنجے] خوښ دے [1] (2): كله چې چا له انتروشے ورشي او هغه اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه اووائي نو فرښتې وائي: رَبِّ الۡعٰلَمِيۡن او كه چرې هغه رَبِّ الۡعٰلَمِيۡن اووائي نو فرښتې وائي: يَرۡحَمُكَ الله يعني الله پاک دې په تا رحم اوكړي [2]

اے عاشقانِ رسول! د پرنجي په وخت سر ښكته كوئ، خُله پټوئ او آواز په ورو كوئ، د پرنجي آواز اوچتول كم عقلي ده. ❁ په پرنجي راتلو اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه وئيل پكار دي. بهتره دا ده چې اَلۡحَمۡدُ لله رَبِّ الۡعٰلَمِيۡن يا اَلۡحَمۡدُ لله عَلٰى كُلِّ حَال اووائې. ❁ په اوريدونكي واجب دي چې سمدستي يَرۡحَمُكَ الله. (يعني الله دې په تا رحم اوكړي) اووائي، او دومره په زوره دې اووائي چې پرنجے كوونكے يې پخپله واوري. ❁ د جواب اوريدو سره دې انتروشے [پرنجے] كوونكے اووائي: ''يَغۡفِرُ اللهُ لَنَا وَلَكُمۡ.'' (يعني الله پاک دې زمونږه او ستاسو بخښنه اوكړي) يا دې دا وائي: ''يَهۡدِيۡكُمُ اللهُ، وَيُصۡلِحُ بَالَكُمۡ .'' (يعني الله پاک دې تاته هدايت اوكړي او ستا حال دې ښه كړي). ❁ خوک چې په پرنجي راتلو اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ عَلٰى كُلِّ حَال. اووائي او خپله ژبه په ټولو غاښونو راكاږي نو اِنۡ شَآءَ اللهُ الۡكَرِيۡم! د غاښونو د بيمارئ نه به محفوظ اوسي. ❁ مولائے كائنات علیُّ الۡمُرتَضٰى رضی اللہ عنہ فرمائي: خوک چې په پرنجي (يعني انتروشي) راتلو اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ عَلٰى كُلِّ حَال اووائي نو په هغه به د غاښ او غوږ درد چرې هم نه راځي. ❁ پرنجي كوونكي له پكار دي چې په زوره حمد اووائي د پاره د دې چې خوک يې واوري او جواب وركړي. ❁ د پرنجي جواب يو ځل واجب دے، كه په دويم ځل پرنجے اوكړي او هغه اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه اووائي نو بيا جواب واجب نه دے بلكه مستحب دے ❁ جواب به په هغه حالت كښې واجب وي كله چې پرنجي كولو والا اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه

---

[1] ...بخاری، کتاب: الادب، باب: مایستحب من العطاس، صفحہ: 1540، حدیث: 6223۔
[2] ...معجم کبیر، جلد: 6، صفحہ: 13، حدیث: 12117۔

اوواۍ او که حمد اونکړي نو جواب نشته ❁ که چرې د خطبې په وخت چا له انتروشے ورشي نو اوریدونکے دې د دې جواب نه ورکوي. ❁ که ډیر اسلامي وروڼه موجود وي او بعضې حاضرینو جواب ورکړو نو د ټولو له طرفه جواب اوشو خو غوره دا دي چې ټول جواب ورکړي. ❁ که چرې د دیوال بل اړخ نه چا انتروشے اوکړو او هغه اَلۡحَمۡدُلِلّٰه اووئیلو نو اوریدونکے دې د دې جواب ورکړي. ❁ که چرې نـمونځ کښې انتروشے درشي نو خاموشي اختیار کړئ او که اَلۡحَمۡدُلِلّٰه مو اووئیله نو هم په نـمونځ کښې څه حرج نه راځي او که هغه وخت یې حمد اونکړو نو چې کله د نـمونځ نه فارغ شي نو بیا دې یـې اُوواۍ. ❁ که چرې تاسو نـمونځ کولو او چا له انتروشے ورغلے او تاسو د جواب په نیت اَلۡحَمۡدُلِلّٰه اووئیلو نو نـمونځ مات شو. که چرې کافر له انتروشے ورغلو او هغه اَلۡحَمۡدُلِلّٰه اووئیلو نو جواب کښې دې یَهۡدِیۡکُمُ اللّٰهُ (یعنې اللّٰه پاک دې تاته هدایت اوکړي) اووئیلے شي.[1]

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مَکۡتَبَةُ الۡمَدِینه د **بهارِ شریعت** جلد: 3 نه حصه نمبر 16 او د شیخ طریقت، امیر اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الیاس عطار قادري رضوي دامت برکاتہم العالیه د 91 صفحو رساله **550 سنتیں اور آداب** واخلئ او اوئې لولئ! د سنتو زده کولو یوه بهترینه ذریعه د دعوتِ اسلامي مَدَنی قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے.

| | |
|---|---|
| لوٹنے رحمتیں قافلے میں چلو | سیکھنے سنتیں قافلے میں چلو |
| ہوں گی حل مشکلیں قافلے میں چلو | ختم ہوں شامتیں قافلے میں چلو (2) |

اللّٰه پاک دې مونږ له د عمل کولو توفیق راعطا کړي. اٰمِین بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صلی اللّٰه علیه واٰلہٖ وسلم.

---

[1]...550 سنتیں اور آداب، صفحہ:36،37۔

[2]...وسائلِ بخشش، صفحہ:669ملتقطاً۔

# د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډكه اجتماع كښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

## ﴾1﴿ د شَبِ جُمعے [یعني د جُمعے د شپې] دُرُود

اَللّٰھُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِ نِالنَّبِيِّ الْاُمِّيِّ الْحَبِيْبِ الْعَالِى الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

بُزرګانو فرمائيلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (یعني د جُمُعے او زیارت مينځنۍ شپه باندې) دا دُرُود شريف پابندۍ سره كم ازكم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت كښې د سركارِ مدينه صلّى الله عليهِ واٰلهٖ وسلّم دِيدار كوي او قَبْر كښې د داخليدو وخت كښې هُم، تر دې چې سركارِ مدينه صلّى الله عليهِ واٰلهٖ وسلّم به هغه قَبْر كښې د خپل رَحمت نه ډكو لاسو باندې كوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شريكه دا دُرُود اووائيو.

## ﴾2﴿ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

حضرتِ سيِّدُنا انَس رضى الله عنهُ نه روايت دے چې تاجدارِمدينه صلّى الله عليهِ واٰلهٖ وسلّم فرمائيلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو كښيناستلو نه مخكښې او كه ناست وو نو اودريدلو نه مخكښې به د هغه ګُناهونه مُعاف كړے شي. راځئ چې مونږه هم په شريكه دا دُرُود اووائيو.

1 . . . افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة السادسة والخمسون، ص١٥١ ملخصًا

## ﴿3﴾د رَحمت اويا دروازے:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازے بيرته كړے شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو.

## ﴿4﴾د شپږ لاكه دُرُودشريف ثواب

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِيْ عِلْمِ اللّٰهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

حضرت اَحْمَد صَاوِی رحمۃ اللہ علیہ د بَعضو بُزرګانو نه نَقل كوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاكو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[2] راځئ چې په شريكه ئې اُووائيو.

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرضٰى لَهٗ

يوه ورځ يو كس راغلو نو حُضُورِ اَنور صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم هغه د خپل ځان او صِدّيقِ اكبر رضی اللہ عنہ تر مينځه كښينولو، په دې باندې صَحابَۀ كرام رضی اللہ عنہم حيران شو چې دا څوك ذِی مَرتبه [يعني اوچتې مرتبے والا] دے! چې كله هغه لاړو نو سركار صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم اوفرمائيل: دے چې كله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[3] راځئ چې مونږه ئې هُم

---

1...القول البديع، الباب الثانی، ص۲۷۷

2...افضل الصلوات علی سيد السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص۱۴۹

3...القول البديع، الباب الاول، ص۱۲۵

په شريکه اووائيو.

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف اولولي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيکۍ:

جَزَى اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللهُ عَنْهُمَا نه رِوايت دے چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتے يو زر ورځو پورې نيکۍ ليکي.[2] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[3] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريکه اووائيو.

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

---

1 ... الترغيب والترهيب، كتاب الذكر و الدعاء، ۲/۳۲۹، حديث: ۳۰

2 ... مجمع الزوائد، كتاب الادعية، باب فى كيفية الصلاة ... الخ، ۱۰/۲۵۴، حديث: ۱۷۳۰۵

3 ... تاريخ ابنِ عساكر، ۱۹/۱۵۵، حديث: ۴۴۱۵